


# ستاسې د زيږون کنټرول غوراوي

**مهم ټکي**

- ستاسې ډاکټر کولی شي تاسې سره دا پريکړه کولو کې مرسته وکړي چې ستاسې لپاره د زيږون کنټرول يا د بلاربيدو مخنيوي کومه طريقه سمه ده.
- د زيږون کنټرول ځينې انتخابونه ګولۍ، جراحي يا عمليات، او د ستنې تزريق دی.
- د دې ميتودونو موده لنډمهاله، اوږدمهاله يا د تل لپاره کيدی شي.


ستاسې ډاکټر تاسې نه پوښتنه کوي چې آيا تاسې بلارب يې يا غواړئ چې بلارب شئ. که تاسې وغواړئ چې بلارب نشئ، نو ستاسې ډاکټر به ستاسې د ملاقات پرمهال تاسې سره د زيږون کنټرول يا د کورنۍ پلان کولو په اړه وغږيږي.

دا پوښتنې محرم او پټې دي. محرم پدې معنې چې ستاسې ډاکټر او ژباړونکی به ستاسې ځوابونه د کوم بل چا سره شريک نکړي. يوازې هغه ډاکټران او نرسان به ستاسې طبي مخينې ته لاسرسی ولري چې ستاسې پاملرنه کوي.

| ميتود | | ځنګه يې وکاروئ | ګټې | تاوانونه |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| د ښځې شنډيې کول |  | ډاکټر تيوبونه پرې کوي/بلاک کوي | د تل لپاره دوام کوي. خورا ډېر اغيز لرونکی | بيرته نه بدليږي. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی.ايس پروړاندې محافظت نه کوي. |
| د نارينه شنډيې کول (واسکټومي) |  | ډاکټر تيوبونه پرې کوي/بلاک کوي | د تل لپاره دوام کوي. خورا ډېر اغيز لرونکی | بيرته نه بدليږي. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی.ايس پروړاندې محافظت نه کوي. |
| ايمپلانټ - نيکسپلانن |  | ډاکټر ستاسې پوټکي لاندې پلاستيکي راډ ږدي | دا د 3 کلونو لپاره کار کوي. ډېر فعال | غيرمنظم وينه بهيدل. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی.ايس پروړاندې محافظت نه کوي. |
| IUD- ميرينا/ليليټا |  | IUD د ډاکټر په واسطه په رحم کې ايښودل کيږي | د 5 کلونو (ميرينا) يا 3 کلونو (ليلټا) لپاره کار کوي. ډېر فعال | غيرمنظم وينه بهيدل يا ټاکي يا هيڅ وينه نه بهيدل. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی.ايس پروړاندې محافظت نه کوي. |
| IUD- پاراګارډ |  | IUD د ډاکټر په واسطه په رحم کې ايښودل کيږي | د 10 کلونو لپاره کار کوي. ډېر اغيزناک دی. هيڅ هورمون نلري. ماشوم ته د ټي شيدو ورکولو کې ستونزه نه رامينځته کوي | درنده وينه بهيدنه، ناوړه تنګوالی. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی.ايس پروړاندې محافظت نه کوي. |


These materials have been approved by the Minnesota Center of Excellence in Newcomer Health.
Source: https://www.cdc.gov/reproductivehealth/contraception/mmwr/spr/intro.html

CENTER OF EXCELLENCE IN NEWCOMER HEALTH MINNESOTA

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
|  | ستنه – ډيپو پروورا | په هرو 3 مياشتو کې تزريق | لږې مياشتنۍ ناروغۍ يا هيڅ مياشتنۍ ناروغي نه درلودل. ماشوم ته د تي شيدو ورکولو کې ستونزه نه رامينځته کوي | غيرمنظم وينه بهيدنه يا تاکې. د شيرازوالي بيرته راستنيدو لپاره تر يو کال پورې وخت نيولی شي. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی.ايس پروړاندې محافظت نه کوي. |
|  | ګولۍ | بايد په ورته وخت کې هره ورځ وخوړل شي | مياشتنۍ ناروغي ډيره منظم او درد پې کمولی شي. داني او د مياشتنۍ ناروغۍ علامې ښې کوي. | د زړه بدي، وزن ډيريدو، سردرد، او جنسي ليوالتيا کې د بدلون لامل کيدی شي. د ايس.ټي.آی پروړاندې محافظت نه کوي. |
|  | د يوازې پروژستين لرونکې ګولۍ | بايد په ورته وخت کې هره ورځ وخوړل شي | مياشتنۍ ناروغي منظم کولی شي، درد پې کموي، داني او د مياشتنۍ ناروغي علامې محدودوي. | د زړه بدي، وزن ډيريدو، سردرد، جنسي ليوالتيا کې د بدلون لامل کيدی شي. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی.ايس پروړاندې محافظت نه کوي. |
|  | پيچ | په اونۍ کې يوځل په پوټکي نوی پيچ کارول کيږي. | مياشتنۍ ناروغي ډيره منظم او درد پې کمولی شي. هره ورځ ګولۍ خوړلو ته اړتيا نشته. | ممکن پوټکي کې سوزش پيدا کړي. د 1-2 مياشتو لپاره تاکې او نښې. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی.ايس پروړاندې محافظت نه کوي. |
|  | کړۍ | کوچنۍ پلاستيکي کړۍ مهبل کې ايښودل کيږي. هره مياشت کړۍ بدليږي. | مياشتنۍ ناروغي ډيره منظم او درد پې کمولی شي. هره ورځ ګولۍ خوړلو ته اړتيا نشته. | ممکن د مهبل وتونکي مايعات ډير کړي. د 1-2 مياشتو لپاره تاکې او نښې. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی.ايس پروړاندې محافظت نه کوي. |
|  | ډيافراګم | هرځل چې تاسې جنسي عمل کوئ نوی صحيح پې دننه کړئ. | کارول پې اسانه دي. هيڅ هورمون نلري. اوږدې مودې لپاره کار کوي، بياځل کارول کيدی شي. | هرځل چې جنسي عمل کوئ بايد وکارول شي. د ايچ.آي.وي/ايس.ټي.آی مخنيوي کې مرسته نه کوي. |
|  | کانډوم (نارينه او ښځينه) | هرځل چې جنسي عمل کوئ نوی کانډوم وکاروئ. | دا يوازينۍ ميتود دی چې د ايچ.آي.وي او د جنسي عمل له لارې انتقاليدونکې عفونيتونو مخنيوي کې مرسته کوي | د اغيزمنتيا لپاره بايد هرځل جنسي عمل پرمهال وکارول شي. |
| **د بلاربتوب بيړنی مخنيوی** | | | | |

These materials have been approved by the Minnesota Center of Excellence in Newcomer Health.
Source: https://www.cdc.gov/reproductivehealth/contraception/mmwr/spr/intro.html

CENTER OF EXCELLENCE IN NEWCOMER HEALTH MINNESOTA

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
|  | د بلاربتوب بیړني مخنیوي ګولۍ (ECP) (پلان بي) | دا ګولۍ باید د غیرخوندي جنسي عمل په 3 ورځو کې وخوړل شي. دا د غیرخوندي جنسي عمل تر 5 ورځو پورې خوړل کیدی شي. دا 1 یا 2 ګولۍ یې (2 ګولۍ یې دواړه باید یوځای وخوړل شي). | دا په ډیری درملتونونو کې د ډاکټر نسخې یا آی.ډي پرته شتون لري (د فارمیسیست نه یې غوښتنه وکړئ) | که د ډاکټر لخوا یې نسخه نه وي ورکړل شوي او د بیمې پوښښ لاندې نه وي نو کیدی شي ګراني او قیمت وي. د ایچ.آی.وي/ایس.ټي.آی.ایس پروړاندې محافظت نه کوي. |
|  | مس – لرونکی IUD (Cu-IUD) (بیړنی IUD) | د لومړي غیرخوندي جنسي عمل په 5 ورځو کې دننه کیدی شي. | د منظم زیږون کنټرول وسیلې په توګه ورته دوام ورکول کیدی شي | د دننه ایښودلو لپاره طبي مسلکي فرد ته اړتیا ده. د ایچ.آی.وي\ایس.ټي.آی پروړاندې محافظت نه کوي. |

سرچینه: https://www.cdc.gov/reproductivehealth/contraception/mmwr/spr/intro.html